د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د تصاويبو مديريت

د (متحدالمآلونو) څانګه

نېټه: ۱۵/ ۱۱/ ۱۴۴۴ هـ ق

مصادف: ۱۴/ ۳/ ۱۴۰۲ هـ ش

عاجل ☐ عادي ☐ اطمينانيه ☐ ابلاغيه ☐ ساير ☐

د متحدالمآل ګنه: ۵۵

---

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته

وبعد : د کابل ولايت د څلورم زون ابتدائيه محکمې پيشنهاد نمبر (۲۲۱۲) مورخ ۱٤٤٤/۱۱/۳هق رارسيدلی چې خلاصه يې داسي ده: (د ځينې محکمو او ديوانونو رئيسان صاحبان او مفتيان صاحبان غواړي چې د ۱٤٤٤هق کال د حج فريضې د اداء کولو په موخه سعودي عربستان ته سفر وکړي، پوښتنه دا ده: چې د يادو رئيسانو صاحبانو تر راستنېدلو پورې بل شخص د سرپرست په توګه تعين شي او يا هم د محاکمو اجراآت د تصميم نيولو په اړه د رئيسانو صاحبانو تر راستنېدلو پورې بند شي؟)

د پورته ذکر شوي پيشنهاد خلاصه مو د سترې محکمې محترم مقام ته وړاندې کړه، د سترې محکمې محترم مقام يې په اړه د حکم مورخ ۱٤٤٤/۱۱/۹هق په اساس داسې هدايت وکړ:

((وعليکم السلام ورحمت الله وبرکاته!

ياده موضوع کې دې د مشکل د حل لپاره خپل پرځای سرپرست مقرر کړي ترڅو د محاکمو کارونه ونه ځنډيږي.

دارالانشاء دې متحدالمآل ټولو محاکمو ته واستوي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم مقام پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو ترڅو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

په درنښت

۱۵ / ۱۱ / ۱۴۴۴ هـ ق

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د سترې محکمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

ستره محکمه

رياست عمومی دارالانشاء

---

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af